VERMONT
DEPARTMENT OF HEALTH

# له سېلاب څخه وروسته د ساتېري اوبه

په داسي حال کي چي سيندونه او ډنډونه په عادي حالاتو کي خطرونه او ککړتياوي لرلی شي، سخت توپانونه او سېلابونه کولی شي د اوبو په دغه زېرمو کي د خوړېدو، ناروغ کېدو، يا ډوبېدو خطر زيات کړي.

**له سختو بارانونو څخه وروستو لږ تر لږه تر 48 ساعتو، او که سېلاب پکي راغلی وي نو تر اوږدې مودې، د اوبو د کومي زېرمې څخه لرې اوسئ.**

## باراني توپانونه او سېلابونه خطرونه رامنځته کوي

- له تېزې باراني پېښې څخه وروستو تر ډېرو ورځو راختلي سيندونه او تېزې بهېدونکي اوبه کولی شي د لامبو وهلو په ځايونو او سيندونو کي خطرناک حالات رامنځته کړي.
- کېدی شي سخت بارانونه له ځان سره دغه اوبو ته د پورته ځای د فضله اوبو د نظامونو او رابهېدونکو اوبو څخه باکتريا يا مايکرو ارګانيزمونه راوړي.
- کېدی شي توپاني اوبه او سېلابونه له ځان سره تېره شيان، لکه ښيښې يا فلزي ټوټې، او توې شوي تېل يا کيمياوي توکي هم د لامبو وهلو سيمو ته راوړي.

## بهر اوسئ تر څو خوندي پاتې شئ

- **له سيندونو او خوړونو څخه بهر اوسئ تر څو اوبه ربې او قرار شي** – په عادي ډول د توپان څخه وروستو تر څو ورځو پورې. د اوبو بهيرونو ته ګورئ او په غيرعادي توګه د تېز غږ سره بهېدونکو اوبو ته غوږ نيسئ. طبيعي اوبه له سطحې څخه لاندې پټ خطرونه لرلی شي، لکه داسي جوړښتونه چي کش کوونکي رامنځته کوي.
- **د سختو بارانو وروسته،** لږ تر لږه تر 48 ساعتو د اوبو له زېرمو څخه لرې اوسئ تر څو د ککړو اوبو له کبله د ناروغ کېدو له خطر څخه ځان وساتئ. د لامبو وهلو په عامه سيمه کي، تاسو کولی شئ لامبو ووهئ که چيرې د اوبو ټيسټ ترسره شوی وي او خوندي وي.
- **له سېلابي پېښې څخه وروستو،** د لامبو وهلو او ساتېري لپاره د اوبو خوندي کېدل کېدی شي ډېرې ورځې وخت ونيسي.

## د لامبو وهلو څخه دمخه تاسو بايد څه معلوم کړئ

- د پارک د مدير يا ښاروالۍ څخه پوښتنه وکړئ او معلومه کړئ چي آيا د لامبو وهلو سيمې خلاصې دي او دا چي دوی د اوبو د معيار ټيسټ کړی دی.
- پر ساحلونو او پارکونو کي لګول شوې اعلامي تختې وګورئ او عمل پرې وکړئ.
- چيرې هم يوازې لامبو مه وهئ. اوبه ستاسو د فکر په پرتله ډېرې تېزې وي، او پېښې په لږ ساعت کي رامنځته کېږي.
- په اوبو کي [سايټوباکټريا ته پام کوئ]، ځکه چي د سېلابي اوبو څخه اضافي خواړه کېدی شي د ګل کېدو لامل شي. دوی کولی شي اوبه تور رنګي شني ښکاره کړي، او د مټرو ښوروا يا توی شوي رنګ ته ورته بريښي.
- د ساحل اوبه مه څښئ او د داسي زخمونو سره لامبو مه وهئ چي اغېزمن کېدی شي.
- د لامبو وروستو شاور کوئ، او د خوړلو دمخه خپل لاسونه وينځئ.